مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوڅ مرادزی

۲۰۲۳ / ۰۷ / ۱۲

# عشق او کلتور

چې په زړه مې وربډله تر خوا راغله
کوڅه تنګه وه یو مخې په ما راغله
ما ورپرانیستله غېږ له مینې ډکه
هغه ودرېده، پر ما یي خندا راغله
وی چې زړه زما له مینې پر تا بر دی
خو کلتور سترګو ته ودرېد حیا راغله
د کلتور دلته د عشق سره جګړه ده
نه پوهېږم له کوم خوا دا بلا راغله
نارینه وته په عشق کې شرم نشته
د دې شرم پړه یوازې پر ما راغله
څو چې عشق د نارینه لاسو کې بند وي
د یو داسي شان کلتور به نو څه خوند وي
د ۲۰۲۳ کال د جولای ۱۲ مه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ